


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه، علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !

---

د مولانا داکتر محمد سعيد « سعيد افغاني » ليکنه

د نشر نېټه : اول اګست 2023 ميلادی

# د تصوف غايه او هدف !

د واقعي او حقيقي تصوف منظور دا نه دی چې خلک د ژوند او د کار و ښخه لرې ، بيکاره او تنبل کړي او يا د ژوند د فعالتونو او اکتشافاتو ښخه يې لرې و ساتي.

خو متاسفانه چې د اسلام د تصوف په نامه د خلکو د مشکلاتو د حل او د مدنيت د پرمخ تګ د ښمنانو او بې لارې کوونکو عناصرو د اسلام د تصوف ښخه ناوړه تعبيرونه او ناجايز استفادې کړې او داسې يې وبريښوله چې د اسلام دين تصوف بيکاري او تنبلي ده او د خلکو د ژوند د ښه کيدو لپاره توجه او اهتمام نه لري.

نه ، داسې نه ده بلکې حقيقت دادی چې اسلامي واقعي تصوف غواړي چې په اجتماع کې داسې عناصر وروزی کوم چې د هغوی علاقه د حق او حقانيت سره قوي کړي او په دی وسيلې جهان د تباهې ښخه و ساتی او د خپل ژوند او د خلکو ټولی مساعی په هغی خواته واړوي کوم چې د صلح ، سلم ، د خير او نيکمرغی په اصولو او مبادیو اتکاء لری تر ښو مادي توليدات زيات او عادلانه توزيع مينځ ته راشي .
د ظلم او تجاوز ريښی له بيخه لری کړي تر ښو په مطمين زړه د الله « ج » د رضاء لپاره کار او خدمت و کړی شي و...

تصوف پاکی ، اخلاص ، تصميم ، ذوق ، لذت او خوند دی!

حقيقت دادی چې د تصوف مرام و مقصد او هدف د يرعالي دی او حقيقي متصوف هغه ښوک دی چې خپل ټول عمريې د خلکو د خدمت د انجامولو په لياره کی ، حق او حقيقت ته د رسيدلو په منظور وقف کړی وي ؛ ځکه چې تصوف د زړه پاکی، د عمل کړه توت، د خلکو سره اخلاص ، د حق او حقيقت سره قوي رابطه او علاقه ده .

---

ځنګه چی د اسلام دین د رهبانیت او ګوشه ګیری طرفدار نه دی او نه غواړی چی مسلمانان دی تارک الدنیا شي نو په دی اساس په اسلام کی واقعي صوفیان هغه دی چی د اسلام د دین او شریعت د اساسی اصولو د تطبیق د لیاری خپل زړه او فکر پاک کړي ، په خپل قرار کی د عزم ، تصمیم او پریکړی مرتبی ته ورسېږی تر څو د ښو مفیدو او مثمرو کارونو مصدر وګرځي او په پوره جدیت نشاط او فعالیت خپله ډنده ترسره کړي.

واقعي صوفیان د انسان د والا مقام پوره احترام ساتی ، انسان ته د انسان په سترګو ګوري ، د انسان لپاره د ایثار او قربانی د ذهنیت په اساس مخلصانه خدمت کول غواړي.

د حقیقي صوفي زړه او فکر د مینی ، محبت اوعشق ځخه ډک دی او کوشش کوي چی د خیر مصدر و ګرځي حتی چی د خیر په لیاره کی خیر هم د خیر لپاره او د خیر سره عشق او کلکی علاقی په اساس غواړي.

د واقعي صوفی ذوق ، لذت او جذبه هسی د عادی شیانو د لاس ته راوړلو لپاره نه ده ، بلکی د ذهن افق یی ډیر وسیع دی چی قدم په قدم حق او حقیقت ته درسیدو په لیاره کی د انوارو او لطایفو سره مخامخ کیږي.

***

**داکتر سعید افغاني**

**د ۱۳۵۹ هجري شمسي کال ـ کابل**

ترتیب کوونکی : برهان الدین « سعیدی » .

بازګشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org